دمقالی لیکونکی : سیوماس میلن «Seumas Milne».
سرچینه: انفارمیشن کلیرنګ هوس«۲۰۱۳-۴-۱۷».
ژباړونکی: پوهندوی دوکتور سیدحسام «مل».

-------------------------------------------------------

## دا هغه وخت نه دی چی یواځی تاچربنخ کړشی بلکه تاچریزم هم باید بنخ کړ شی

## It's Time To Bury Not Just Thatcher - But Thatcherism

هغی دخپل ولکی په وخت کی ونتوانید چی د بریتانیا په اقتصاد کی صرفه جویی ته وده ورکړی ،نو دهمدی دلیل په بنیاد مونږ ددی ضرورت وینو چی دهغی پر ناکامه مودل اودهغی دخپلی باورنودراتلونکی عواقبو پر تینبتو باندی یو څه تم شو

اپریل ۲۰۱-۱۷ «انفارمیشن کلیرنګ هوس»-«ګاردیین»:

هغوی یواځی خپل ځا ن ګرم بولی .په زیاد احتمال سره دبریتانیا په معاصر تاریخ کی تل دا معمول دی چی د هر لمړی وزیر سره په مخه بنه (خدای پامانی) کی سره له هغه کوم چی هغه د تولنی له نظره ډیر مخرب کس هم وی یو شا نته چلن کیږی ، اما د مارګیریت تاچر د جنازی په رسمی مراسمو کی کوم چی دهغه لګبنت ددولت د برسراقتداریعنی محافظه کار ګوند په هڅو اوګډون سره تر سره شو دهغه لید نه سړی په چرت کی وړل کوم چی دګوند د مجمع اود دوید کامیرون لمړی وزیر لاقی او

اغراق آمیز وینا چی د تاچر دجنازی په مراسمو کی د خپل ګوند د سیاسی لاسته راوړنی په اړین تر سره کړ حیرانونکی وه .

دمارګیریت تاچرد ښار اسقف د خپلو خبرو په یوه برخه کی څرګند کړ اوهغه داچی ددی رسمی جنا زی ټول لګښت نژدی لس میلونه پونډسترلنګ ته رسیږی او دا دخلکو هغه پیسی دی چی دشتمنو د مالیاتو د معافیتونو د را ټیټولو څخه تر لاسه شوی وه کوم چی دا پیسی دتاچردکړنود یادونی اودهغه دبرمتیا دپاره ولګول شوچی د اوه(۷) تیرو لمړی وزیرانو دجنازی په مراسمو کی وروسته د ونستون چرچل څخه په مصرف نه وه رسید لی اویا په دی شان سره د هغو جنازه نه وه بدرقه شوی اګرچه چرچل دا حق درلود چی دهغه احترام پرځای شوای وایی ، خکه هغه د خپل هلو ځلو په تر خ کی وتوانید چی د بریتا نیا خلک د جرمنی د نازیزم په وړاندی سره یو موټی کړی حال داچی تاچر دهغه دکړنو معکوس عمل ترسره کړ اګرچی دځنو په آند د هغی هر هڅه ممکن چی نن هغی ته یوڅه برات ورکړی مګر دهغی استعماری ناسیونالستی روش او کړنه کوم چی داوقیانوس اطلس په جنوب کی اختلافاتو او ناخوالو ته لمن ووهل د هغه نه هیریدونکی کرغیړن استعما ری نا سیونالیست میراث دی چی هیڅوک به هغه هیر نکړی .

د حیرانتیا ځای په دی کی دی کوم چی د ټولنی «۶۰٪» خلکو دعمومی اعا نی او یا سبسیدی سره په مخالفت کی ووسی اوبیا داچی بوکنګها یم دشا نداری جنا زی په مراسموکی د خلکو د ګڼون ډنډوره او الارام وغږوی او بیا د بیګ بن په قلمرو کی دهغه د حماسی آواز د سکوت پریکړه و شی چی دا پخپله بی له

یو ډول نش او توهین آمیز عمل بل شی نه ګڼل کیږی .
په تاریخ کی دعزت اوددرناوی د ضرورت په اړین ډیر توده بحثونه وجود لری اما دیوی طبقاتی جنګی دولت د رهبر داسی ستاینه لکه ددولت دیو محترم اوپیاوړی ریس په څیر بی له دی چی دبریتانیا دنیما یی خلکوسپکاوی وی بل شی نه شمیرل کیږی یعنی دهغه حکومتی رهبر ستاینه کوم چی هغی له خپل حافظی څخه د ټولنی د میلونونو خلکو کرکه چی د خپل نا وړی اوورانونکی پالیسی اوسیاست سره پخپله دوران کی ترسره کړه او خلک یی برباد کړ له یاده ایستلی وه .
له هغه وخت څخه چی د بریتانیا تیر لمړی وزیر «تاچر» مړه شوی دی دهغی محافظه کارګوند رهبری په تاریخی لحاظ سره د یوی ژوری تخریب شوی پیښي د بیا له سره جوړونی او یا د بیا رغونی موضوع د خپلو اړینو ټولنیزو رسنیو «میدیا» ته د بیا له سره لیکنی سپا ریښتنه کړی کوم چی که دهغوپه مرسته وشی کړی چي پرخپل بد نام تیرو کړو با ندی برغولی کیږدی، کوم چی دهغی دمړنی څخه د څو ورځو د پاره په غوړ ما لنی بڼی سره دهغی دیا د ونی تبلیغاتی پاڼی په دیوالونو کی ځړوند کړی وه اوهغوی یعنی دبریتانیا محافظه کار ګوند داسی انګیرله چی ممکن دا عمل به هغو ته ګټه ورسوی لکه هغسی چی په «۲۰۰۴» کال کی وروسته درونالد ریګن دمړنی څخه په متحده ایالاتو کی تر سره شوی وه .
دیاونی وړ مطلب دادی چی دیوی اونی په ترڅ کی روښا نه شو چی رویزیونیست (دله سره کتونکی) بیا په لاس وهنو پوری کړل اودهغو د قهر اود غضب پټ سا تل شوی پوقانه وچاودیدل

اودخپل بی اما نه قانون تر پښو لاندی کول کړنه ، خصوصی سا زی او پا نګوالی ته د ما لیا تو د ورکړی جزوه ثبت او په مید یا کی خپور کړ ل ، لکه هغسی چي تاچر د خپل زمامداری په وخت کی دهمدی بی قا نونی له امله دبریتانیا په ګوټ ګوټ کی دخلکودکرکی سره مخامخ وه کوم چی اوس دایتلاف رهبری دهمدی شان کرکی سره دخپل کړنو له مخی مخامخ دی .

پس دلته هیڅ پوښنته اویا د خلکو د نظر دغوښتنی موضوع د کامیرون ( دانګلستان اوسنی صدراعظم ) دلافی او باتی وهلو په اړین نه په سترګو کیږی حتی تردی ځایه باتی کوم چي هغه پخپل یو وینا کی وویل داهمدغه تاچر وه چی زمونږ (هیواد ته نجات ورکړ )هیواد یی وساتل ، اما هغه له موضوع څخه بی خبر کوم چی دبریتانیا ګڼ خلک دهغی پر ناسم پا لیسی با ندی پوره پوهیدل یعنی دخلکو پواسطه سره دهغه د کړنو تشخیص موجود وه اوهغه داچی دیوی نظر سنجی له مخی چی د تاچر دهغه په اصطلاح د ګل سرسبد پا لیسی اود هغی له جملی څخه د خصوصی سازی په اړین تر سره شوی وه خلکو خپل مخالفتونه په ډاګه کړی وه یواځی دتولنی« ۱/۴ برخه » دهغی د خد متونو څخه هرکلی کول اوبس یعنی ډیرو خلکو په دی باورنه وه او یا په دی باور نه دی چي هغی لوی بریتانیا ته کوم لوی خد مت تر سره کړی وی ،خصوصاْ دهغی اقتصادی پالیسی بریتانیا ته ډیر ستر تاوان ورسول اودهغی دپالیسی یوه نه هیریدونکی کرغیړن میراث دخلکو ویش او نابرابری دی چی تاریخ به هغه هیڅکله هیر نکړی .

لکه هغسی چی له حقایقو څخه را څرګند یږی،بریتانیا د تاچر

په واکداری کي ونتوانید چی په اقتصاد کی سپماپلی کړی ، بلکه دهغی دزما مداری څخه راپا تی میراث اجتماعی بشپړنا انډول ، ټولنیزپریوتنه (فروپاشی) ،ناورین مالی بی نظمی ،صنعتی بشپړ ویجاړنی اوعمومی بی روزګاری څخه یادولی شوسربیره پر هغه همدارنګه د شمال د سیند له تیلو(نفت) څخه باد راوړی شتمنی د شتمنو دما لیا تو په راتیتیولوسره لوټ شو اودعمومی خد ما تو تر عنوان لاندی یو ه پرسیدلی لایحه(دپیسو صورت حساب) د دکوچنیانو دبی وزلی ډ یرید ل او د اجتماعی فعالیتونه په ټپه دریدل هغه څه دی چی د تاچر د صدارات په وخت کی خپل لوړ پیک یا کچی ته رسید لی وه چی تاریخ به هغه هیڅکله هیر نکړی .

سره له دغه پورتنی ذکر شوی ناخوالی او اقتصادی ناورین کوم چی د تاچر د زمامد اری په وخت کی را پا تی میراث دي مګر د هغی پلویان ټینګار کوی او وایی چی تاچرهغسی چی د بریتا نیا داقتصاد د ودی د پاره ضرور وه تر سره کړی حال داچی په کال «۱۹۸۰» کی کوم چی د بریتا نیا اقتصادی وده ( ٪۲،۴) وه لکه همغسی وه چي په کال «۱۹۷۰» کی وه یعنی چی د تاچردزمامداری په وخت کی دکوم ستر اقتصادی انکشاف نښی اونښانی نه په سترګو کید ل . یعنی هغه په دی معنی چی اقتصادی وده د تاچر په زمامداری کی «٪۲،۲» ته را ټیټ شو. چی داپخپله دهغه دزمامداری د اقتصادی ناکامی ستر بیلګه بلل کیږی یعنی دبریتانیا اقتصاد لاپسی د خرابیدو په طرف روان وه لکه چی ټولو ته معلوم دی د بریتانیا اقتصادی وضع په کال «۱۹۶۰» کی د ډله ایزوشرکتونوپه ګډه همکاری سره لوړ پړاو

ته رسیدلی وه یعنی په وسطی اندازی سره دبریتانیا اقتصادی
وده له «۳٪» څخه هم لوړ وه .
د تاچر د ناسم ادعا سر سره کوم چی هغی دخپل واکداری په
وخت کی اقتصادی ودی ته د « بهره وری معجزه »یادول اوپر
هغه باندی ویاړنه کوله اما بیخبر له دی چی دبریتانیا د اقتصادی
بهره وری وده په کال «۱۹۶۰» کی ډیر لوړ او پورته وه
( چی البته نن د کامیرون په ننی واکمنی کی د بهره وری د
ودی کچه راولوید لی ) اما هغه څه چی د تاچر حکومت ترسره
کړه هغی د ودی یا دانکشاف څخه لاسته راغلی شتمنی چی دبی
وزلو د کوششونو ثمره وه هغه شتمنی یي پربډایانو باندی له سره
وویشل دسود نرخ اواندازه یی لوړه کړ اود ملی عایداتو څخه
دکارکونکو سهم اوبرخه دکارګرانو پر اتحادیو باندی وروسته له
یرغل راټیته کړه.اوپه دی دلیل وه چی دبریتانیاداقتصاد دظاهری
چټک وده دما لیا تو د نرخ په لوړولو سره ترستر ګو شو اما له
اصلی ملی عاید څخه دهغی دزما مداری په لمړی لسیزه کی د
بی وزلو برخه اوسهم تر «۴۰٪» پوری را ټیټ کړ شو .
تاسی پواځی د تاچر دزما مد اری په وخت کی دهغه کارونو
اودپروګرامونو تکرار ګوریی کوم چی دهغه څخه یونسل مخکی
ترسره کړی وه یعنی لمړی د جان میجر ، بیا د نوی کارګر له
ګوند څخه لمړی وزیر او اوس هم په ورته بڼه دکامیرون په
واسطه سره ، یعنی دخصوصی سازی –آزادی سازی اود شتمنو
دمالیا تو دنرخ ټیټول اود نابرابری سیاست.تاچرلمړنی بریتانیاوی
ښځینه صدراعظم وه کوم چی د بریتا نیا دښځو موقف او مقام ته
ستر تاوان ورسول . تونی بلیر ویل چی ما ټول هغه کارونه او

پروګرامونه د خپل زما مداری  په وخت  کی  پلی کړ کوم چی دتاچر د کارونو اوکړنو په پرتله  معکوس پروګرامونه وه .

د تاچریسم  مکتب  په  واقیعت  کی  یواځی  یو ډول  لمړنی ریفورمی مودل او نظریه وه  چی  تاچر  د خپل  نژدی  ملګری «جنرال پینوچیت د چیلی  له دیکتاتور » څخه تر لاسه کړی وه او  هغه  د پا نګوالی  د  نیو لیبر الیسم  د پالیسی  یوه  مودل  وه اوغوښتل یی چي په ټول نړی کی پلی شی اویا داچي پرراتلونکو نسلونو با ندی تحمیل کړل  شی چی له نیکه مرغه  دغه مودل په کال (۲۰۰۸) کی له د ننه وچاودیده  او ټوټی  ټوټی شو، حتی تر دی حده پوری چی تیر اونی د آزاد  بازار ماهرانو  اود تاچریسم اکثر پلویانو په ډاګه کړل  چی د ننی مالی بحران  زړی د  تاچر په وخت کی کرل شوی وه  یعنی  چی ننی بحران  د  تاچریسم د مودل پایلی دي .

د اخم « تحریک» د مجلی  چلوونکی  یا ایداتور لکه  د نورو واقعی ریښتیا ویونکو په څیر داسی وویل چی په اوس وخت کی دغه د نیو لیبرالیزم د مود ل پا ند ول  «ځوړند متحرک  جسم » دنیولیبرالیزم  څخه لری په نوسانی بڼی سره څرخی  ، پس تونی بلیر یعنی هغه کس کوم چی دچټک پرمختګ  کلنو په موده پخپل سیاست کی بند پاتی وه یاهغه کس چی په یو آرام پاتی حوزه کی خپله پرخپل ګوند یرغل وړل یا نیوکی کول ،یعنی بلیرپه  رمزی بڼی سره پراد میلیباند (Ed Miliband ) د کارګر ګوند  پر رهبر باندی نیوکی کول کوم چي  دهغه په اند سره  ددغه روان بحران عامل د نامنظم بازاردچلند پایلی دی  چی د کینڼ اړخ پلوته دتغیر زمینه برابر کړ .

دلته چپ پلوته داغوښتنی یا دتغیر هیڅ کوم روښانه او اساسی اوتوماتیک دلیل اوعامل نه تر سترګو کیږی چی ولی دغه تغیر رامینځته شو ،مګرپه هرصورت تاریخ دا را ښود لی چی راسته خواوی هم د اقتصادی بند وبست او فرو پاشی څخه ګټه تر لاسه کولي شی، اوهغه داچی له شلو کلنو څخه لا زیاتی یعنی له هغی ورځی څخه چي تاچر له خپل دندی څخه پریوتی او یا دمجبوری له مخی خپل دفتر پریښی د خلکو سره ډیری شواهداومدارک موجود دی اوهغه دا چی دبریتانیا ډیری خلکوددولت د خودسری اود فرد ګرایی د فلسفی په وړاند نه سترړی کیدونکی ګامونه اوچت کړی اوله خپل ځا نه مقاومت ښودلی دی اوهغه داچی خلکو په دی باور دی چی دولت باید ملی عواید پرخپل اتباعو باندی وویشی حتی که دغه ملی عواید ډیر کم هم وی باید چي په مناسب او عادلانه بڼی سره خلکو ته دهغو سهم ورکړی .

دیادونی وړ مطلب دادی چی نن دتاچر اودهغه د ځای ناستی ملګری د اقتصا دی مودل اساس اوزیربنا ویجاړ شوی اویا د ویجاړنی په لورروان دي ،لکه هغسی چی دکارګر دجبهی د کار وړاندی ناستی قاضی ښاغلی جان تریکیت (Jon Trickett) په دغه روان اونی کی داسی څرګند کړ: مونږ باید د خپل ځپل شوی اوناکام اقتصادی سیاست دبیا رغونی دپاره د وتلو لاره پیدا کړو یعنی هغه لاره کوم چی د تاچر د ناسم اقتصا دی مودل ځای ناستی ووسی ، همدارنګه مونږ باید هیڅکله هیر نکړو چی نن مونږ او زمونږ خلک په ډ یر بد و شرایطو کی ژوند کوی کوم چي دغه وضعه د تاچر د ناسم چلند زیږینده دی اوس دا وخت را رسیدلی چی نه یواځی تاچر ښخ کړو با ید چی تاچریسم

هم تر خاوری لاندی کړو .

په درناوی --------------------------------